


# شپږم څپرکے

# غــږ پوهــنه او لیــك دود

**٨**

**په تېر پسې**

حبیب الله تړے

٢_١. پـه تېـرو بحثونـو کښـې مـا دې خبـرې تـه اشـاره وکـړه، چـې د لیـك هـر معمـول سیسـتم فقـط د ژبې یوه نیمګړې ثبته شوې بڼه ده، مګـر سره لـه دې هم د لیکونو تر منځ دومره تـوپیر موجـود دے، چـې ځیني له ځیني نورو نه زیات کره شوي دي. مګر ډېر کره معمولیکونه هم دا نۀ شي کولے، چې ژبه د خپلو ټولو ممیزاتو سره ثبته کړي. له هم دې لامله ده، چې د لیك او املاء د بدلون او کره کولو مسئله له ډېرو پخـوا وختـونـو څخـه د توجـه وړ ګرځېـدلې او خبـرې شوې ده.

چـې زۀ یـې دلتـه د اوږدې تـاریخي خبـرنـې نـه تېرېږم [١] او له هغه وخت څخه پرې غږېږم، چې پر دغې مسئلې د اوسنیو ژبپوهانو لـه خوا اساسي او علمي خېړنه شروع شوه.

دا هغـه وخـت دے، چې ژبپوهـان د وییزغــږ د مطـالعې پـه هغـه ډول لګیـا شـول، چـې فـونیتکس **Phonetics** بلل کېږي.

د نــوې ژبپــوهنې تــاریخ "دوییزغــږ د ډېــرې عمیقې او ژورې مطالعې دوره هم له ١٨٧٠ نه راپـه دې خــوا بنــیي. پــه دې دوره کښــې غږپوهــانو **Phoneticians** د غږونـو د تشـریح او د کښـل شـوو علامو پـه واسطه د هغـو د ښـودلو او څرګندولو پـه برخه کښې ډېره زیاته علمي ذخیره راټوله کړه، چې نن هم د ژبپوهانو د ډېرو مطالعاتو اساس ده."

دامطالعه هسې سرسري او سطحي مطالعـه نۀ وه، بلکـې کـاملاً علمـي او د لابراتـوار مطالعـه وه، چــې پوهــان یــې پــه عــام ډول ســره فــونیتکس **Phonetics** بولي او دا بیا ځانته دوه څانګې لـري، چې یوه یې **Articulitary Phonetics** بلل کېږي او پـه دې کښـې د غږیز جهاز د غـږو حرکات او څرنګوالے مطالعــه کېــږي. بلــه څانګــه یــې اکوســټیـ فــونیتکس **Acoustic Phonetics** بلـل کېـږي او پـه دې کښــې د وییزغږ څپې او څرنګوالے مطالعه کېږي. [٢]

---

[١] _ په دې برخه کې وګورئ د لیکونکي مقالـه "د لیـك دکره کولو او بدلون مسئله" کابل مجله کال ٣٩.

[٢] _ د وییزغږ مطالعه تر هغو لا د ژبپوهانو په درد دومره نه لګیده تر څو، چې ځینې نوي ماشینونه اختراع شول، څکه دغږ د مطالعې پخواني ماشینونه لکه کیموګراف Kymograph پـه دې لاره کې دومره ګټور نه وو اما کله، چې په دې وروستیو کلونو کې ځینې نوي ماشینونه اختراع شول، لکه د اواز سپکټوګراف Sound Spectograph هلته، نو بیا فونیتکس ډېر زیات د ژبپوهنې پـه درد ولګېد، څکه دغه ماشین کولای شي، چې د غږیزو څپو څرنګوالی هسې ثبت کړي لکه پـه ګړیدا کې، چې واقع کېږي، دغه ډول دا

د هم دې ژورو مطالعاتو په لړ کښې وو، چې پوهانو د وييزو غږونو د ډېرو کوچنيو توپيرونو د ثبتولو دپاره د يوې ډېرې غني اوربډونکې الفبا په فکر کښې شول، ځکه دوي غوښتل، چې دوييزغږ د هرې هغې جلا بڼې دپاره يوه نښه وټاکي، چې توپير يې په اکوسټك فونيټکس پورې اړه لري، مګر څرنګه، چې دا توپير يوازې په لابراتوار کښې د فزيکي آلاتو په واسطه ليدل کېږي او فقط خپله غږ پوهان پرې پوهېږي او د ژبې ويونکي نۀ ورته ملتفت کېږي.

نو له دې لامله دا ليك يوازې دوييزغږ د علمي مطالعاتو په برخه کښې مفيد ومنل شو، مګر له ۱۹۲۰ء نه راپه دې خوا ستر ژبپوهان په دې فکر شول، چې وييزغږونه يوازې هغه وخت اهميت لري، چې په ژبه کښې يوه ځانته وظيفه ترسره کړي او دا هم هلته کولے شي، چې د کلماتو په معنا کښې تغيير راولي. دا کار په خاص ډول سره په پراګ کښې د نيکولاز تروبټز کوي **Nicholas Trubetskoy** او د هغه د ډلې او په امريکا کښې د اډوارډ سپير **Edward Sapir** او ليونارډ بلوم فيلډ **Leonord Bloomfield** او نورو په واسطه په ډېرو زياتو کوښښونو ترسره شو. په دې ترتيب ژبپوهان دې ته راغلل، چې مونږ بايد يوازې په دې پسې نۀ شو، چې هسې وييزغږونه تشخيص او د کښل شوو نښو په واسطه يې ترسيم کړو، بلکې زمونږ دا کار بايد دوييزو غږونو هغو عاملو واحدونو ته متوجه وي، چې د معنا له نظره اهميت لري. يعنې په معنا کښې تغيير راولي.

هم دا عامل او مهم د غږ واحدونه دي، چې ژبپوهان يې فونيم **Phoneme** بولي."

۲_ ۲. دوييزو غږونو د تحليل او تجزيې دا وروستے ګام، چې له آره په فونيټکس بنا دے، پوهانو د عملي غږ پوهنې **Practical Phonetics** يا فونالوجي **Phonology** يا فونيمکس **Phonemics** يعنې فونيم پوهنې په نامه ياد کړ او د هغې علمي عصري او منطقي الفبا بنسټ، چې پوهانو د فونيمکس الفبا **Phonemics alphabet** په نامه ياده کړې په هم دې مطالعه بنا دے، ځکه په دې الفبا کښې دا اصل دے، چې بايد هر فونيم د يوې ځانته کښل شوې علامې په واسطه وښودل شي، چې ژبپوهان نن دغه نښه ګرافيم **Grapheme** بولي، اما بايد ووئيل شي څۀ رنګه چې خپله د فونيمکس مطالعه پر فونيټکس بنا ده دغه ډول د فونيمکس الفبا بنياد هم فونيټکس الفبا ده، چې دا دوهمه ډېره مغلقه او غني ده. کومې الفباوې، چې د دې مطالعاتو په لړ کښې په غرب کښې رامنځ ته شوې دي، شمېر يې ډېر زيات دے او زۀ يې دلته له يادونې نه تېرېږم، مګر کومه الفبا، چې له دې جملې څخه ډېره زياته تعميم شوې هغه بين المللي فونيټکس الفبا **International Phonetics alphabet** په نامه ياده او په ۱۹۱۲ء کښې د يوه بين المللي انجمن له خوا منځ ته راغلې ده.

۲- ۳. مروجې الفباوې له دې اصل سره، چې هر فونيم دې د يوې ځانته کښل شوې نښې په واسطه يعنې ګرافيم وښودل شي سر نۀ خوري. مثلاً په انګليسي عنعنوي املاء کښې مونږ ګورو، چې د **Sun**- نمر- او **Son**- زوے- کلمات جوړ دي له عين فونيمونو نه، مګر ليکل کېږي په جلا جلا بڼو، مګر

---

ماشين کولاى شي، چې خپله د غږ د شدت تکرار او نور خواص تجزيه او تحليل کړي. له دې لامله ژبپوهان په ژبپوهنه کې يو ډېر ستر انکشاف د همدې ماشين اختراع بولي.

Lead اســـمي شـــكل او Lead فعلـــي شـــكل د فونيمونو له نظره يو له بله سره جلا دي، خو ليكل كېږي يو ډول.

دغه ډول د So, Sew, Sow, Though, Beau, hoe, owe وارِه خـاتمې عـين فونيمونـه دي، خـو ليكل كېږي پـه بېلو بېلو بڼو دغـه ډول Though, bough, through, cough, lough خاتمې وارِه بېل بېل فونيمونه دي، خو ليكل كېږي په عين بڼه.

دغسې "X" تـوری يـوازې يـو فـونيم نـهٔ ښـيي، بلكې كله ks غږ ښيي لكه په Tax كښې او كله د gz لكه پـه Examine كې. پـه هـم دې ترتيـب "C" كلـه د "k" فونيم ښيي لكه Cas او كلـه د "s" فـونيم لكـه پـه Cent كښې. په دغه ډول د هغه فونيم دپاره، چې پـه عمـومي ډول پـه "J" سره ښـودل كېږي كلـه كلـه د G تـوری استعمالېږي لكـه پـه gem كې. دغسـې هـم د ځينـو فونيمونـو دپـاره دوه تركيبـي تـوري يـا ډاے ګـــراف Digraph اســـتعمالېږي لكـــه د th د thin لـومړے فـونيم. Ch د chin لـومړے فـونيم او sh د shin لومړی فونيم او ng د sing د اخر فونيم دپاره.

په دې املاء كښې نورې ګډوډۍ هم شته، چې زهٔ نه غواړم دلته په تفصيل پرې وغږېږم.

اوس به دا وګورو، چې په پښتو ليك او مروجه امـلاء كښـې د فـونيم او ګـرافيم د مطابقـت اصـل څومره نيمګړے دے.

د "ښـځه" او "پسـته" كلمـات پـه بېلـو بېلـو فونيمونو مختوم دي، مګر ليكل كېږي په عين بڼه، مګـر د "ګـل" او (...) د كلمـاتو تـر "ګ" او "غ" نـه وروسته فونيمونه رټ سره يو دي، خو يو يې پـه "ل" ښودل كېږي او بل يې په "ول". دغه ډول هم د "لـور-د مور لور" او "لور- د لور آله" او "لور-رحم" مورفيمونه د فونيمونو له مخې يو بل سره كاملا فرق لري، مګر معمولاً په يو ډول ليكل كېږي.

د "ږ" تـورے لـږ تـر لـږه دوه جـلا جـلا فونيمونـه ښيي. د "ښ" تورے لږ تر لږه درې سره جلا فونيمونـه ښيي. په عمومي ډول سره مـونږ د "خولۍ" د كليمـې لومړے فونيم تل د "خ" په واسطه ښيبو. اما كله كلـه بيا عين فـونيم د "ښ" پـه واسطه ښـيو. د "خولۍ" او "راغلئ" وروستۍ برخـه د فـونيم لـه نظره عـين شـے دے، مګر ليكل كېږي په بېلو بېلو بڼو. يعنې "لۍ" او "لئ" ځينې فونيمونه يو وخت پـه دوو تـورو يعنـې digraph سره ښودل كېدل لكه د "ن" فونيم، چې "نړ" ليكـل كېـده. واولـز vowels فونيمونـه يـا اكثـر پـه مروجه املاء كښې د تورو په واسطه نهٔ ښودل كېږي او يا كله كهٔ ښـودل كېږي هغـه پـه يـو ګډوډ او غيـر منظم ډول دي.

۲_ ۴. لنډه دا، چې نننۍ پښتو املاء يا مـروج رسم الخط د فونيم او ګرافيم د مطابقت د اصـل نـه كـاملاً لـري او يـوې جـدي توجـه تـه اړه لـري. د دې دپاره، چې پښتو ته يوه كره امـلاء يـا رسم الخـط او يا حتې د ليك سستم وضع شي او په دې ترتيب هغـه خنډونـه، چـې د ليـك او لوسـت د زده كـړې پـه لاره كښـې پراتـهٔ دي لـرې شـي، لازمـه ده د دې اصـل د تطبيق كوښښ وشي، چې هر لـومړنے فـونيم د يـوه توري يعنې ګرافيم په واسطه وښودل شي.

البته دا، چې دغه كار د عمل په دنيا كښې هم امكـان لـري او كـهٔ نـهٔ؟ دا داسـې سـوال دے، چـې د پـوهنې او تخنيـك لـه نظره يې ځـواب كـاملاً مثبت دی، يعنې دا يوه ډېره بسيطه خبره ده، چې پښتو تـه دې يـو نـوے او د "فونـالوجي" داساسـاتو سـره سـم رسم الخط ترتيب شي.